امان الله

٢٠١١/٠١/٠٦

# آیا حامد کرزی غښتلی مشر دی؟

## او ایران د افغانانو دوست دی؟

درنو دوستانو او سیاسی څیړونکو، آیا حامد کرزی د افغانستان ريښتيني مشر دی؟ او ایران د افغانانو دوست دی؟
آیا کرزی او دده ډله د افغانستان د بحران د لاملونو او ريښو د موندلو په اړه کومه علمی څیړنه ترسره کړی؟

د افغانستان بحران د لاملونو او د هغه د ريښو موندلو په خاطر علمی ډلی او څیړنی ته اړیتا لری، چی د بحران نه د وتلو لپاره یوه پخه طرحه وړاندی کړی، د کرزی ډله د افغانستان د سیاست په ډگر کښي کومه اقتصادی روښانه لری لید نه لری .
دا چی اوسنی کړکیچ د روسانو د یرغل محصول دی نو د پاکستان، ایران او د روسیی د منفی سیاستونو له امله د داخلی نوکرانو په وجود کښي دا بحران ښه چاق شوی ده او دا لړی ادامه لری.
افغانستان یو هوښیار او مدبر مشر ته چی باثباته وی اړتیا لری، او د هیواد وگړو او قومونو د یو ښه رهبر چی د ایران، پاکستان او روسیی پر وړاندی د هیواد د ملی گټو پر وړاندی قاطعیت او پایداری ولری ملاتړ کوی.
ښه مشر چی نړیواله تجربه ولری او د ټولنی په درد وپوهیږی نو هغه مشر ایران او پاکستان ته اجازه نه ورکوی چی په هیواد کښي لاسوهنی وکړی.
او دا ځانگړتیا په کرزی کښي نشته، ځکه د تروریستانو پنډغالی په گاونډیو هیوادو کښي موقعیت لری، چی په پاکستان کښي د اسلامی بنسټپالو پنډغالی د هیچا څخه پټ نه دی، مگر د ایران سپاه پاسداران انقلاب هم طالبانو ته وسلی ورکوی او د هغوی له پاره د روزنی امکانات برابر کړی دی، چی د ایران اخوندی ډلی او سپاه پاسداران په افغانستان کښي د افغانانو او بهرنیو ځوکوانو په وړاندی جگړه کښي د طالبانو ملاتړ کوی.
د ایران اوسنیو سیاستونو په افغانستان کښي د افغانانو د سوکالی او بهرنیو ځوکوانو د ماموریت له پاره لنډ مهاله گواښ متوجه کړی، خو ایران غواړی چی په راتلونکی کی د افغانانو د پرمختیگ، د مرکزی واکمنی او د بهرنیو ځوکوانو ماموریت له خطر سره مخامخ کړی.
د طالبانو سره د ایران د قدس ځواک همکاری د اندیښنی تر پولی رسیدلی، او ددی ډلی لخوا طالبانو ته د وسلو او روزنی ورکولو مسلی په نړی کښي اندیښنی زیاتی کړی دی.
د قدس ډله د سپاه پاسدران انقلاب یوه خاصه ډله ده چی له ایرانه بهر د عملیاتو مشری کوی.
د ایران پاسدران انقلاب په ١٩٧٩ کال کښي د اسلامی انقلاب وروسته په دی موخه رامنځ ته شو چی د حاکم نظام د ظالمانه واکمنی د ساتلو له پاره د کورنیو او بهرنیو گواښونو مخه ونیسي او د اسلامی انقلاب د صدور د پاره لاره هواره کړی.
دا اوس اوس د ایرانیانو لخوا د افغان مهاجرو د ظالمانه وژنی د تیلو د تانکرنو مخنیوی سره بیا هم حامد کرزی په ډیره ناځوانی سره د ایران څخه قدردانی کوی. په ريښتني توگه د افغانانو سره دا لویه جفا ده!
گرانو دوستانو، د افغانانو او په خاصه د ځوانانو د خپلو سیاسی اهدافو د لاسته راوړلو په خاطر د افراطی لارو او د جگړی پر ځای د قانونی سیاسی مبارزو غوراوی او په خپلو وینو کښي لمبول شوی او لمبیدونکی ولس ته د تاریخی واقعیتونو انځور وړاندی کول د حامد کرزی او دده د مرستیالانو د وس او توان خبره ندی.
په افغانستان کښي د ایران او پاکستان د فرهنگی او سیاسی نفوذ پراختیا او د مطبوعاتو کنترول او د پارلمان ځنیو غړو سره مستقیمی مالی مرستی افغانانو ته د اندیښنی وړ مثالونه دی، د بلی خوا څخه د کرزی نژدی ځینی دوستان،د کابنیی ځینو غړو، یو شمیر والیان د خپلو پراخو سیاسی او بهرنیو روابطو له لاری یی هر یو یی د خپل ځانگړی تنظیم ته کار کوی او دوی د همدی موخی په غرض د سیاست په ډگر کښي څرگند شوی دی.
اوسنی سیاسی چاپیریال د اړیکو پر بنسټ سره ویشل شوی، چی افغانان ځانونه په کښي نشي لیدلی،نو ځکه په اوسنی حکومت کښي د وگړو او اولسونو بنسټیز او محوری غوښتني چی انصاف او عدالت دی، ندی ترسره شوی.
د افغانستان په اساسی قانون کښي سیاسی نظام یو ولسواک نظام تسجیل شوی،د فساد،د مخدره موادو قاچاق او د ایران،پاکستان لاسوهنی او د کرزی کمزوری مدیریت دده د پاره چی په افغانستان کښي ولسواکی په یوه ښه فرهنگ واوړی برعکس په دی برخه کښي اوسنی حکومت څه نه دی کړی، ځکه په حاکمیت کښي شته داسی کسان چی په دی اصل باور نه لری.
په دغه ٩ کلن موده کښي د افغانستان د ولسواکی او د افغانستان د پرمختیگ د پاره باید ډیر کار شوی وای، او په


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پاړوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ځوانانو کښې د ولسواکۍ او خپلو حقونو په اړه د شعور پیدا کول د حاکمیت په اړه او د هیواد د تجربو څخه د بیان او اظهار د ازادی د رای ورکولو او کاندیدو په اړه د بنسټیز انسانی حقونو د ښځو حقونو په اړه او د خپل مخالف د زغم کلتور دودول د پاره باید کار شوی وای چې هیڅ ندی شوی هر څه یی د خپل ځانونه له پاره جوړ کړی د ولسونو حق هماغسی تر پښو لاندی دی.
د داسی ورته اهدافو لکه د فساد او مخدره موادو سره جدی مبارزه، د بیاجوړونی ، پراختیا او د عدالت او انصاف د پلی کولو د پاره پراخ پروګرام پکار دی چی د اوسنی حکومت په دستګاه کښې د حساب ورکولو معیارونه یی رڼه او شفافه نه ده، چی دا کارونه د کرزی په دور کښی ناشونی سنجش دی.
د هر څه نه مخکی افغانان امنیت او سولی ته اړتیا لری او هغه کوم معنویات چی د جګړی د پای د پاره ضروری دی د کرزی د حکومت په دننه کښې نه لیدل کیږی، حامد کرزی یو کمزوری او ناتوان شخص دی چی د افغانستان پر خلکو باندی اتکا نلری، او د جګړی د پای د پاره ښه مدیریت، پوهاوی او د باور رامنځته کول په هیواد کښې سولی او امنیت ته د رسیدو د پاره ښه لاره ګڼل کیدی شی.
همداسی کرزی او دده نژدی مرستیالان او همکاران د افغانستان د اقتصادی پرمختیګ او پراختیاه د پاره سالمه لری لید او ستراتژی نلری.
بهرنیو ماهرینو او افغان انجنیرانو د ارزونی له مخی چی د بریښنا تولید له پاره یی تر سره کړی وی، وایی چی په افغانستان کښې ۸۰ نه ۹۰ میلونه متر مکعب اوبه لری چی یواځی له ۲۰ سلنی څخه یی ګټه اخیستل کیږی او ۸۰ سلنی پرته ددی نه چی افغانان ته ګټه یی ورسیږی ایران او پاکستان ته بهیږی، دغه شمیرنه جوته کوی چی د امو او کوکچې بندونه او د ننګرهار د کامی د بند طرحه د ۷ او ۸ زرو میګا واټه بریښنا د تولید جوګه دی.
افغانان ته پکار وو چی په دی ۹ کلن موده کښې یی دغو سیندونه ته مخه کړی وای چی د حامد کرزی او تورن اسماعیل خان د ناتوانه سیاست له کبله چی د ایران تر تاثیر لاندی قرار لری دا کار ونشو ، که چیری دا بندونه جوړ شی کولای شو ددغی بریښنا زیاته برخه پر پاکستان او هند وپلورو.
دا اوس افغانان ته ښه چانس مساعد دی او دا هیله موجود دی چی افغانستان رغیږی په دی شرط چی افغانان یو پیاوړی دولت او قاطع مشر رامنځته کړی د افغانی ټولنی په شرایطو برابر د یو خوځنده اقتصادی نظام پر لاره اچول د یو ښه، هوښیار او قاطع رهبر له وظایفو څخه ګڼل کیږی، چی وکولای شی په رښتنې مانا د ملی یووالی او اسلامی هویت پر بنسټ د ملت جوړونی او د نړیوالو سره د ښه پالیسی چی د مرستی او همکاری پر بنسټ وی ټینګ او رامنځته کړی.
په درنښت امان الله د امریکا متحده آیالاتو څخه

amanullah1970b@yahoo.com


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ